(Published on *Institute for War and Peace Reporting* (https://iwpr.net)



# د کابل د بریښنا په هکله مبارزه او هلی ځلی

**Author:** Mohammad Shafiq

افغانستان د نړیوالی ټولنی ځخه په دی هیله دی چی خپلی ژمنی د هیواد د ویجاړ بریښنا د سیسټم د بیا آبادولو په هکله تر سره کړي.

د بریښنا د جنریټرونو د ږغ د پورته کیدو او په کورونو او دفترونو کی د تیاری د خپریدو یوازنۍ موخه یامطلب د کابل د بریښنا د جریان بیا قطع کیدل دي.

په داسی حال کی چی د کابل اوسیدونکي په دی پوهیږي چی دوی یوازی نیمه ورځ بریښنا درلودلای شی، خو په دی ډاډه نه دی چی دوی به د ورځی په کومه نیمائی کی بریښنا ولري.

وچکالي د اوبو ځخه د بریښنا د سیسټمونو د مؤثریت کموالی اود جګړی له امله د بریښنا د سیسټمونو ویجاړیدل د بریښنا د جریان د قطع کیدو دوه اصلی علتونه بلل کیري چی د کابل د اوسیدونکو د نااميدۍ او کار او بار د خلکو د غصی سبب کیري، ولی چی د کار او بار خلک مجبوره دي چی د بریښنا د جریان د قطع کیدو له امله (۲٤) ساعته کار وکړي.

د کابل د دان باغ زنانه د سیمی د ویلډینګ د کمپنۍ مالک محمد یعقوب وویل: د بریښنا د جریان قطع کیدو زموئږ کار او بار ته ډیر زیان را رسولی دی. نوموړي زیاته کړه: موئږ د ورځی لخوا د بریښنا د جریان د قطع کیدو له امله مجبوره یو چی تر نیمی شپی پوری پر ګرځیدو د بندیز د لګولو د پیل تر وخته کار ته دوام ورکړو.

دکابل اوسیدونکی د پخلی او دکورونو او دفترونو د تودولو دپاره د لرګیو او سکرو ځخه کار اخلی. حتی د بریښنا د جریان په موجودیت کی اکثره برقی سامان الات کار نه کوي، ولی چی د بریښنا جریان ډیر کمزوره وي. د کارته پروان یوه اوسیدونکي محمد صدیق وویل: د شپی لخوا د بریښنا جریان دومره کمزوره وي چی بیا هم موئږ د رڼا دپاره د تیلو د څراغانو ځخه کار اخلو.

حتی حکومتی مامورین هم د بریښنا د جریان د قطع کیدو له امله د ستونځو سره مخامخ دي. عنایت الله رمز چی د کابل راډیو د اطلاعاتو او خبرونو مسؤل دی، د بریښنا د جریان د قطع کیدو له امله د خپلو خپرونو د ترتیبولو په اړه شکایت وکړ او و ئی ویل: موئږ د خپلو خپرونو د جوړولو دپاره ډیر محدود وخت لرو او حتی ځینی وخت د بریښنا د جریان د قطعه کیدو له امله زموئږ خپرونه یوازی یو ساعت وي.

د عامی روغتیا په وزارت کی طبي ټکنالوژی پوه محمد اصیل تل په دی لټه کی وي چی اوبه خلاصی نه شی. نوموړی وویل: موئږ د یوه برقی پمپ ځخه کار اخلو او هر سهار وختی هځه کوو چی د ټولی ورځی دپاره په کافی اندازه اوبه ذخیره کړو. هغه زیاته کړه: د طبی لحاظه د (۱۲) ساعتونو ځخه زیاتی ساتل شوی اوبه د روغتیا دپاره ښی نه دي، خو بیا هم دا د نه ځخه ښه وي.

د یوه میلون تنو ځخه د زیاتو مهاجرو د بیرته راستنیدو له امله د بریښنا پر سیسټم فشار هم زیات شوي.د ښار نوي اوسیدونکي د بریښنا د کیبلونو ځخه د چنګک د لاری د غیری قانونی بریښنا په تر لاسه کولو سره ځانونه د لوی خطر سره مخامخ کوي.

د کابل د ښار په ځینو سیمو کی د بریښنا کیبلونه په پشپړ ډول سره ښخ شوی نه دي چی د سیمی د اوسیدونکو له پاره یو دوامداره خطر دی. نقیب الله چی یو زده کوونکی او د کارته مامورین اوسیدونکی دی،د تیر کال هغه پیښه یي په یاد ده چی د دوی کور ته نژدی یو ماشوم د بریښنا د کیبلونو د یو ځای کیدو لځی برخی ته په لاس ور وړلو ووژل شو.

افغانستان اوس د مرستندویه هیوادونو د هغو ژمنو تر سره کولو ته سخته اړتیا لري چی د بریښنا د سیسټم د بیا آبادولود مرستو په هکله ئی کړیدي.

د اوبو او بریښنا د وزارت مرستیال محمد آمین منصفی چی د کابل د بریښنا مسؤل دی، وویل: د بریښنا ځینی موجوده ستونځی کیدای شي د کابل د بریښنا د پخوانیو ډیزلی جنریټرونو په ترمیم سره حل شي، خو هغه بهرني هیوادونه چی په دی هکله یي ژمنی کړیدي، تر اوسه ئی تر سره کړي نه دي او موئږ د هغوی د ترمیمولو کافي منابع او سرچینی نه لرو.

نوموړي زياته کړه: موئږ د ژمی دپاره د اوبو سپما کوو، تر څو د هغو څخه کافی بریښنا تر لاسه کړو، نو د همدی امله د کابل په ځینو سیمو کی د بریښنا جریان قطعه کیږی. هغه وویل: بیا هم موئږ روغتونو، ارگ، وزارتونو او نورو دا ډول مهمو ځایونو ته په منظم ډول بریښنا ورکوهو.

نوموړي زياته کړه: موئږ باید د گاونډیو هیوادونو څخه بریښنا په نړیوال نرخ رانیسو. هغه وویل: موئږ به د تاجکستان سره د هیواد د شمالی ولایتونو د بریښنا دپاره او له ایران سره د لویدیځو سیمو د بریښنا دپاره تړونونه لاسلیک کړو. هغه زياته کړه: که د ټوکیو د کنفرانس پر ژمنو وفا وشی، نو موئږ کولای شو چی د بیلابیلو سر چینو لکه باد، لمر او غاز څخه بریښنا تر لاسه کړو.

د افغانستان له پاره د نړیوال بانک لخوا د لنډی مودی دپاره ځینی ښه خبرونه وړاندی شویدي. نوموړی بانک پلان لری چی د افغانستان سره د (۳۳) میلون امریکائی ډالرو بیړنی ټولنیزه مرسته وکړي او د همدی مرستی نیمه برخه به د بریښنا د سیسټم په ترمیم لگول کیږي.

محمد شفق حقپال او علي کاظمي د کابل آزاد او خپلواک ژورنالستان دي.

**Location:** Tajikistan
Iraqi Kurdistan
Iran
Afghanistan

---

**Source URL:** https://iwpr.net/ps/global-voices/%D8%AF-%DA%A9%D8%A7%D8%A8%D9%84-%D8%AF-%D8%A8%D8%B1%D9%8A%DA%9A%D9%86%D8%A7-%D9%BE%D9%87-%D9%87%DA%A9%D9%84%D9%87-%D9%85%D8%A8%D8%A7%D8%B1%D8%B2%D9%87-%D8%A7%D9%88-%D9%87%D9%84%D9%89-%DA%81%D9%84%D9%89